# د خوشحال خان خټک په شعرونو کښې د ټولنيزو مسائلو شننه

Analysis of Social Issues in the Poems of Khushal Khan Khattak

Jamila "Sarori Seerat"[1]

**Abstract:**

Khushal Khan Khattak, a prominent classical Pashto poet, national leader, intellectual, national champion, and master of both the pen and the sword, was deeply acquainted with the cultural codes, leadership principles, and social regulations of Pashtun society. He had a profound understanding of his community and its socio-political dynamics. Through his extensive literary contributions, Khushal Khan not only elevated the status of the Pashto language making it competitive with other classical languages—but also enriched Pashto literature with a lasting and comprehensive literary heritage.

Khushal's commitment to Pashto and to the Pashtun people was not merely personal; his entire family valued knowledge and education. Both men and women in his lineage followed his intellectual and cultural path. As the founder of a unique literary style and school during the classical period of Pashto literature, Khushal Khan inspired numerous followers.

His deep observation of the environment in which he lived is evident in his poetry, which frequently reflects societal issues. There is scarcely a social topic that Khushal Khan did not address through verse, revealing his profound engagement with the moral, political, and cultural life of his people.

د څېړنې موخه:

ددې لنډې څېړنې اصلي موخه د خوشحال خان په ځينو شعرونو کښې د ټو لنيزو مسائلو شننه ده ، په ځينو بېلګو کښې به د دۀ د شعرونو ټولنيز اړخ روښانه او تر بحث لاندې ونيول شي.

د څېړنې اهميت او مبرميت:

په دې کښې شک نشته چې خوشحال بابا يو څو اړخيز شخصيت، عالم، مفکر،

---

[1] Associate Prof Academy of Sciences Center for Language and Literature

سياستپوه،طبيب د توري او قلم خاوند او د لوړي او قوي حافظې څښتن و. په دې ټولو سربېره د ټولنې پر نبض پوه او يو ښه ټولنپوه هم وۀ او په دې برخه کښې د پوره پوهې او ګروهې خاوند و،چې په دې لنډه ليکنه کښې به د خوشحال بابا پر ځينو هغو شعرونو بحث اوشي چې ټولنيز موضوعات ته په کښې وړاندې شوې ده.

د څېړنې پوښتنې:

۱.خوشحال خان خټک څنګه او څومره په ټولنيزو مسائلو پوهېدو ؟

۲.څومره او څنګه يې ټولنيز موضوعات په شعر کښې منعکس کړي دي؟

د څېړنې مېتود:

ددې څېړنې بڼه کتابتوني ده او د توضيحي او تحليلي مېتود په مرسته موضوعات په کښې څېړل شوي دي.

سريزه:

په کلاسيکو شاعرانو کښې د خوشحال خان بابا شعر د کميت او کيفيت له پلوه تر ټولو غوره دے، په شعر کښې د نوښتونو خاوند دے او ابتکاري خوا يې د ستايلو وړده ، په پښتو شعرونو کښې يې په کيفي لحاظ تر ټولو د مخه بدلونونه راوستي دي. په شعر کښې د نوےو مفکورو او نوےو خيالونو راوړل هم دده په برخه دي، د مضامينو د تنوع له پلوه هم څوک ورسره سيالي نه شي کولے.(۱)

داسې موضوع به نه وي چې خوشحال خان بابا به په شعر کښې اشاره نه وي ورته کړې ،دلته به دغه مسائل په بېلګو کښې په لنډيز سره و څېړل شي.خوشحال خان بابا د ولس او خلکو د اعمالو او افکارو څخه خبر و، د خپل ولس په ژبه ښه پوهېدو ،له زړونو يې باخبره و،کلتور ،عنعنات او کړه وړه يې ور معلوم وو، چې دغه ټول موضوعات د بابا په شعري ديوان يا کلياتو کښې خوندي دي، له همدې کبله يې خپل ديوان د علم ګنج له باغ سره تشبې کړے او داسې وائي:

درست ديوان مې لکه باغ د علم ګنج
په کښې هر قسم ګلونه هر نهال(۲)

علم ګنج په کابل کښې يو باغ وو ، چې څلور بنځه پېړۍ وړاندې يې زيات شهرت درلود ، په ريښتيا هم چې د خوشحال خان بابا کليات د باغ په شان دي، لکه څرنګه چې

مخکښې يادونه اوشوه د دې مقالې اصلي موضوع د بابا په شعرونو کښې د ټولنيزو موضوعاتو شننه او څېړنه ده ، نو بې ځايه به نه وي چې لومړی د ټولنې د کليمې په اړه لنډه رڼا واچوو.

په آريانا دايره المعارف کښې دا کليمه داسې راغلې ده:

«ټولنه (Society) د وګړو يوه ډله او مجموعه ده چې د رواجونو او دودونو ، عادتونو او د ژوند د طرز او فرهنګ له پلوه سره يو شان وي، هغه څه چې د ټولنو د دوام او يووالي لامل ګرځي، ګډ تاريخ او فرهنګي ميراثونه او ګډ هېواد . ټولنپېژندونکي د ټولنې کلمه کله په ډېره پراخه معنا او ځينې وخت يې په محدوده معنا کاروي، د ټولنې کلمه په پراخه معنا د يوه کُل په توګه انساني نژاد را اخلي ،خو په محدوده معنا چې همدا ډول کارول يې ډېر استعمال لري.» (۳) د دې تعريف تر څنګ بيا پښتو - پښتو تشريحي قاموس ټولنه داسې راپېژني:

ټولنه (**Tolana**):

1. غونډه-مجلس.
2. اجتماع- تشکيل.
3. نفوس- مجمع،جميعت.
4. سره يو ځاے کېدنه.
5. هيأت.

د انسانانو ګڼې ډلې ته وائي چې يو له بله سره راز راز اړيکې لري. بنسټيزې اړيکې يې د مادي نعمتونو د توليد او د توليد د وسايلو په برخه کښې وي چې په هغوي سره دغه نعمتونه توليد يږي.(۴)

خوشحال په ټوله معنا يو ريښتنی شاعر و، په عمومي ډول د دهٔ د شعر خصوصيت د دهٔ ملي ايډيالوژي ګڼلے شو ، چې هغه د پښتنو آزادي ،آبادي، پوهېدل ، يو کېدل او لوړېدل دي. خوشحال خان بابا په کلاسيکو شاعرانو کښې تر ټولو ډېر اشعار لري چې ، د شعر بيتونه يې کابو له ۴۰۰۰۰ څخه اوړي ، هغه يو ځاے داسې وائي :

د ديوان مې بيت په بيت سره حساب کړې
تر خـــلوښت زره به تېر شي په دا کال(۵)

دغه بیت خوشحال بابا له مړینې پنځه کاله وړاندې وئیلے دے ، یعنې په ۱۰۹۵ کال هـ ق کال کښې د دهٔ د اشعارو شمېر داسې و ، چې اشعار یې په پښتو ادبي آثارو کښې خپل ارزښت لري.

لکه څرنګه چې پورته یادونه اوشوه د بابا د اشعارو شمېر له حده وتلے دے، نو د هغو ټولو شعرونو راوړل چې ټولنیز مسائل په کښې منعکس شوي دي. د دې مقالې له حوصلې وتلے کار دے، زهٔ به کوشش اوکړم چې په (مشت نمونه خروار) باندې بسنه اوکړم، دلته به هغه مهم شعرونه راوړم، چې ټولنیز مسائل په کښې په ډاګه شوي وي، خوشحال خان خټک ته الله (ج) خاص او فوق العاده استعداد ورکړے وهٔ او د ژواندانه په هره برخه کښې د دهٔ لیکنې د استفادې او ګټې اخیستنې وړ دے.

خوشحال خان په ټولنیز ژوند کښې ښګینه ستایي او په اړه ئې داسې وائي:

راشـــه ښېګـــڼه د ونې ګوره
خپـل ځان په لمر کا ، بل کا په سیوره
په سنګ یې وولـه ، میوه در واچوي
خصلت له ونې واخله اې وروره(۲)

په پورته بیت کښې بابا موږ ته بلنه راکوي چې د ونې ښېګڼې او سیرت ته پام اوکړو. ونه د صبر، زغم او بخښنې سمبول ده، چې خپله تکلیف ګالي، خو نورو ته راحت ورکوي،همدارنګه دا د بخښنې او لوړو اخلاقو ښه بېلګه ده، هېره دې نه وي چې په دې بیتونو کښې دغه پند پروت دے، انسان باید نرم، مهربانه، صابر او بخښونکے وي.

همدغسې پدې پورته بیتونو کښې د یو ښه ټولنیز نظام لپاره درس دے. د ښه ژوند کولو اخلاق، د انسانیت او ټولنیز عدالت غږ دے.

په ژوند کښې هڅه او هاند د انسان پرمختګ او هیلو ته د رسیدلو لامل کېږي، هڅه او کوشش ټینګه اراده غواړي، هرڅه چې په دنیا کښې تر لاسه کیږي که هغه له کانونو یا دریابونو څخه هم وي د انسان د هڅې او ټینګې ارادې محصول دے، په دې اړه خوشحال بابا په یوه بیت کښې داسې وائي:

کـه غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چا وےل چې په دریاب کښې ګوهر نشته(۷)

په پورته بیت کښې د هڅې او کوشش ارزښت روښانه شوے دے، دا بیت دا پیغام لري چې که ته هڅه او کار کوې خامخا به نتیجه تر لاسه کړې، برمختګ به کوې ، همدارنګه په دې بیت کښې دا اشاره شوې چې په هر انسان، قوم یاټولنه کښې پټې وړتیاوې شته،که څوک باور پرې ونه لري بیا هم باید خلکو ته فرصت ورکړو، له ظاهري بڼې یا حالت له مخې قضاوت ونه کړو او بلاخره په ټولنیز ژوند کښې هره کامیابي د هڅې او کوشش محصول وګڼو.دغه لوړ بیت یو الهام بخښونکے پیغام هم لري، چې ټولنیزو ستونزو، فقر یا بدبختیو ته په کتو باید خلک ناهیلې نشي.که کار اوکړي، زغم ولري، نو له هماغو شرایطو څخه به په بریا او ښکلا راووځي لکه ګوهر چې له دریابه راوځي.

خوشحال بابا تر هر څه ډېر له تنګ نظرۍ، حرص او بخل څخه کرکه کوله،په غریبۍ کښې یې مرګ غوښت او همداسې هم اوشوه؛ځکه چې خپله شتمني یې په سخاوت او مېلمه پالنه کښې لګولې وه، په یو شعر کښې یې داسې نغوته ورته کړې ده:

چې بازیږې په جهـــان کړم،هغه زۀ یم
هم یې پوسم،هم ترې یوسم،اړ پرې نه یم
و اغیار ته لکه کــانړی مـــوم وےـــار ته
په سختی او په نرمۍ کښې هغه زړۀ یم (۸)

خوشحال خان خټک چې د پښتو ادبیاتو په کلاسیکو شاعرانو کښې ځانګړے ځاے او مقام لري، تر بل هر چا دغو انساني اوچتو مفاهیمو ته ډېر متوجه و، ده د یوه غوره او ښه ناصح په توګه په یوه څلوریزه کښې دغه عالي مفاهیم په ځومره ښکلي انداز راځلولي او ځاے کړي دي:

څوک چې له خلکو شور و غوغا کا
نادان حریص دے هغه چې دا کا
چې عـاقلان دي چې صابران دي
هغه به کــله جنجال له چاکا (۹)

خوشحال بابا هر راز ټولنیزو مسائلو ته په خپلو شعرونو کښې اشاره کړې چې دلته په دې بیت کښې د جاهل سره ناسته پاسته غندي ، نو داسې وائي:

د جـــاهل سره ګلګشت لکه دوزخ دے
له دانا سره راضي یم، که مې بند کا (۱۰)

په پورته بیت کښې د دوه ډوله خلکو تر منځ پرتله شوېږ: جاهل( بې عمله-بې عقل) دانا (عاقل-هوښیار) دا يوه ټولنيزه مشوره ده چې له چا سره تعلق يا اړيکه لرل، ژوند ته راحت يا عذاب راولي. دا بيت مونږ ته ټولنيز درس راکوي چې د دوستۍ،مجلس او چاپېريال په انتخاب کښې احتياط اوکړو. د پوهو، هوښيارو او با اخلاقه خلکو ملګرتيا بايد غوره کړو، ځکه دا د انساني شخصيت جوړونې بنسټ دے.خوشحال بابا په ټولنيز ژوند کښې خاکساري غوره ګڼي او په اړه يې داسې وائي:

ترې بــه ســـل رنګه ګــلونه زرغـــونه شـــي
هر سړی چې خاکساري واخلي ځان خاک کا([11])

څوک چې په ټولنه کښې عاجز وي، ځان لوړ نه ګڼي، له نورو سره نرمي کوي، مشرانو او کشرانو ته درناوے لري، نو خلق يې خوښوي، باور پرې کوي او درناوے يې هم کوي.دا ډول خلک شخړې نه جوړوي،بلکې سوله، همغږي او مينه خپروي. يو خاکساره انسان په ټولنه کښې د نورو د سوکالۍ، ښېګڼې او مثبت بدلون لامل کېږي. په پورته بيتونو کښې له خلکو غو ښتنه شوې چې غرور، ځان لوړتيا او د ځان لوےي پر ځاے، خاکساري غوره کړي، ځکه چې مغروره انسانان خلک ځوري، وېش رامنځته کوي، له خلکو او ټولنې سره فاصله جوړوي، خو خاکساره خلک اتحاد، مينه، يووالے او اعتماد رامنځ ته کوي، يعنې غرور او کبر ټولنيز خرابوالے زېږوي، خو عاجزي ټولنيز يووالے رامنځ ته کوي.

خوشحال بابا چې د پښتني ټولنې او خلکو سوکالي غوښته له بېکارۍ څخه بېزاره وو، په شعري ژبه يې داسې اشاره ورته کړې ده :

هر ساعت چې په چا ځي هسې بېکار
تر هغــه نه زۀ لاښه ګـــڼم ښکـــــار
رنځــوران کــه کاروبار نکا معذور دي
روغ سړی به ولې نکا خپل روزګار([12])

دغه پورته بيتونه د کار، هڅې او مسؤوليت له پلوه ژور ټولنيز پيغام لري. هېڅ کار بې ارزښته ندے، تر بېکارۍ هر مثبت څه غوره دي، ځکه بېکاره کس نه ځان ته او نه ټولنې ته ګټه رسوي. بابا په شعر کښې ټولنه دېته هڅوي چې بېکاري،ټنبلي او بې مسؤوليتی ته

غاړه کېښږدي. يوه ټولنه هغه وخت روغه، پرمختللې او متوازنه وي چې خلک يې خپل وخت ضايع نه کړي او هر څوک خپل مسؤوليت ادا کړي.

همدارنګه که يو انسان فزيکي يا ذهني ناروغي ولري،هغه معذور ګڼل کېږي،خو روغ، تندرست او سالم انسان ته پوره مسؤوليت متوجه دے چې بايد کار اوکړي،خپله کورنۍ وساتي او ټولنې ته هم ګټه ورسوي.په ټوله کښې دغه شعر له ټولنيز پلوه د خپل مسؤوليت پېژندنې، د کار احترام او د ټولنيز عدالت پيغام لري چې هر څوک بايد له خپلې وړتيا سره سم رول ولوبوي. خوشحال بابا چې په ورځني ژوند کښې د پوره تجربې خاوند و، چې د ښه انسان يادونه داسې کوي:

مړه هغه چې نه يې نام،نه يې نښان شته
تل تر تله به ژوندي پايي ښـــاغـلي(۱۳)

په دې پورته بيت کښې بابا وائي که يو کس له دې نړۍ ولاړ شي او نوم يې پاتې نشي،يا يې کومه ښه او لاس ته راوړنه يې نه وي، نو دا کس په حقيقت کښې مړ دے،که ژوندے هم وي.

له ټولنيز پلوه دا شعر دېته اشاره کوي هغه خلک چې په ټولنه کښې مثبت رول ونلري، نه خدمت کوي، نه فکر کوي او نه هم کوم اثر له ځانه پرېږدي، هغوي بې ارزښته ژوند لري.دلته له «نام» يا «نښان» شهرت نه، بلکې مثبت ياد ، د خلکو زړونو ته تلل او د ښې کړنې معنا لري او هغه خلک چې ښه اخلاق، پوهه، مثبت کردار،خدمت او انسانيت لري دا ډول کسان که مړه هم شي، خو نوم، اغېز او فکر يې ژوندے پاتې کېږي.

له ټولنيز پلوه دا انسانان د ټولنې ريښتني مشران، ښوونکي، د نظرخاوندان او لارښودونکي وي، هغوے د خلکو په يادونو، تاريخ او ژوند کښې تل پاتې اثر لري.

خوشحال خان خټک چې د ولس او چاپېريال ښه ژوره او عميقه مطالعه درلوده، نو په هر چا د باور او اعتماد کولو څخه يې د ډېر کولو توصيه کړې ، چې داسې وائي:

په خپل زوے او ورور باور نشته خوشحاله
غافل مه شه د جهان له مکره،دروه(۱۴)

پورتنی نيم بيتي د ننۍ ټولنې يو تريخ واقيعت څرګندوي ،د اعتماد او باور کچه تر دې حده را ټيټه شوې چې حتی نږدې خپلوانو (زوے او لور) باندې هم باور کول ستونزمن

شوي دي،خوشحال خان بابا هغه وخت دې مسائلو ته متوجه وۀ او نور خلک هم دېته متوجه کوي چې خپل عقل،تدبير او احتياط څخه کار واخلي، دا په دې معنی نه ده چې د خپل زوے او ورور سپکاوے دے، ولې په هرچا باور هم ګڼې ستونزې راولاړوي. په پورته دوهمې نيم بيتۍ کښې دا پيغام پروت دے،چې نړۍ ساده نه ده،اکثر وختونه خلک د ظاهري مينې او محبت تر شا شخصي ګټې لري.

همدارنګه د شعر پيغام دا دے چې اعتماد کوه، خوله بصيرت سره، دوستي کوه خو له تدبير سره.په ننني ټولنه کښې بايد د احساساتو پر ځاے د عقل،تدبير او خبرداريو پر بنسټ اړيکې وپالو او وساتو.د ژوند په هر پړاو کښې هوښياري او ځان ساتنه ضروري ده که نه مکار خلک حتی د کور له منځه هم زيان در رسوي. خوشحال بابا چې د پښتو ژبې نوموتی شاعر تېر شوے د ناپوه سره مجلس غندي او داسې وائي:

چې دوزخ دے په دنيا کښې
د ناپوه سره صحبت دے (۱۵)

پورته بيت کښې دا ټولنيز پيغام پروت دے چې د ناپوه کس ملګرتيا د ټولنيز تاوان سرچينه ده، له ناپوه ، جاهل او کم عقل کس سره ناسته پاسته کول، نه يواځې بې ګټې دي، بلکې خطرناک هم دي.که يو کس له ناپوهه خلکو سره وخت تېروي، هغه د غلط فهميو، بې فايدې خبرو، خرابو پرېکړو او حتی د فکري سقوط ښکار کېدای شي.په پورته بيتونو کښې په غيرې مستقيم ډول دا پيغام هم پروت دے چې د پوهانو،هوښيارانو او مثبت فکر لرونکو خلکو سره ملګرتيا غوره ده.

يوه ټولنه هغه مهال وده او پرمختګ کولے شي چې خلک له باخبره او اخلاق لرونکو کسانو سره ناسته اوکړي،له ناپوهه کسانو څخه ځان وساتي،ترڅو دفکر،عمل او اخلاقو انحطاط رامنځته نه شي.

د خوشحال خټک په شعرونو کښې بېلابېل ټولنيز مسائل روښانه شوي لکه په دې بيت کښې يې څه ښې موضوع ته اشاره کړې:

چې باور دې په رېښتيا خبره نه کا
و هغه ته به څه خورې سوګندونه(۱۶)

پورته بيت دا وائي چې که يو څوک په رښتيا باور نلري، نو له هغه سره هر ډول

قسم،ژمنه یا دلیل بې ګټې دے. له ټولنیز اړخه دا د اعتماد له ماتېدو سره تړلې مسله ده،که اعتماد له منځه ولاړشي،بیا هېڅ ډول دلیل یا سوګند(قسم)نشي کولے باور بېرته راولي.همدارنګه دا د یوې ټولنې د فکري بلوغ،تفاهم او باور د ماتېدو نښه ده.

که چېرته یوه ټولنه د ریښتینو خبرو ارزښت له لاسه ورکړي، نو خلک به تل یو بل ته دروغ وائي،ژمنې به نه عملي کېږي،ټولنیزې اړیکې به کمزورې شي د باور کچه به راټیټه شي او له هغې ټولنې نه سوله او اتحاد پاتې کېږي،نه دوستي او نه همکاري.ریښتیا وےل او باور ساتل د یوې ټولنې د روغتیا او یووالي اساس دے.هر څوک باید د خپلو خبرو،وعدو او ژمنو مسول وي.که دیو کس پر ریښتیا باور نه وي،نو هغه په ټولنه کښې د اعتبار، ارزښت او نفوس خاوند نشي پاتې کېداې.که چېرې په یوه ټولنه کښې د خلکو تر منځ اعتماد له منځه ولاړشي، نو قسم هم کار نه کوي،نو ځکه صداقت د ټولنیز شخصیت بنسټ دے خوشحال خان خټک چې د پښتو شعر ته له هر پلوه نوے رنګ او خوند ورکړے د زرداری په اړه یې داسې نظر درلود:

خپل پردي واړه په خوله وائي زر-زر
وعالـــم ته تر هرڅه دي بهتر زر
اوس په دا دور ما ولیدل خواړه دي
تر پدر،تر برادر،تر پســـر،زر[17]

دا بیتونه نه یوازې ژوره فکري محتوا لري،بلکې د زمانې د بدلون،انسانانو د ارزښتونو د بدلېدلو او د ټولنیزو اړیکو د خرېړتیا یو ریښتینی انځور وړاندې کوي او پیسو یا زرو د هرڅه ځاے نیولے دے.دغه شعر ټولنه د مادیت پالنې،اخلاقي زوال او انساني احساساتو د مړینې پر ضد یو ژور غږ دے.شاعر په ډېرې خواشیني او افسوس وائي چې خلک نور انسانیت ته نه،بلکې د هغه جیب ته ګوري،حتی د کورنۍ تر غړو هم پیسې او شته ورته مهم ښکاري.

د بابا زړۀ له خلکو او ټولنې دومره ځورېدلے وو چې د شعر په خوږه ژبه داسې وائي:

خـــپل دي کــه پردي دي،قلـم وځکوه په واړو
دور د فســـاد شــو،په خپل زوے و ورور مه وےاړه

ګوره کوم یو باد دے چې په درست جهان راولوت
زړۀ په چا ښه نه شي،لباسي شول خلق واړه[۱۸]

د بابا دا پورته بیتونه ژور فلسفي او ټولنیز فکر څرګندوي،هره مصرع به یې جلاجلا تحلیل کړو:په لومړۍ مصرع کښې دې ته اشاره شوې چې که خپل وي که پردي،باید د قلم په ژبه یې حق او حقیقت ولیکل شي. یعنې عدالت له خپلو او پردیو سره یو شان وي،نه باید د خپلو د تېروتنو دفاع اوشي دا د انصاف او حق محور فکر څرګندوي.

په دوےم نیم بیتي کښې داسې وائي:چې دا وخت د فساد، بې عدالتی او بې ارزښته خلکو دے؛نو ته مه وےاړه زوے یا ورور دې خپل دے،که بد عمل کوي،د نېکۍ معیار باید ښه عمل وي نه د خپلولۍ،دا د قبلیوي تعصب پر ضد یوه سخته نیوکه ده. بیا په دریېم نیم بیتي یا مصرع کښې شاعر وائي:

داسې ښکاري لکه یو عجیب،بد باد یا توفان وي چې ټول جهان یا نړۍ یې تر اغېز لاندې راوستې. دا د بدو حالاتو،ګډوډیو او د انساني ارزښتونو د زوال استعاري بیان دے.د همدې بیتونو په ورستی مصرع کښې بیا داسې اشاره کوي چې نور خلک له زړۀ نه خوښیږي،ځکه ټول دروغجن،ظاهربین او ریا کار شوي دي«لباسي»یعنې یواځې په بڼه ښه ښکاري خو دننه بد دي.په دې پورته بیتونو کښې بابا د زړۀ خواله کړې د خپل وخت دټولنیز،سیاسي او اخلاقي فساد یوه فلسفي انځورونه کوي.خلک ظاهربین او ریاکار شوي دي «لباسي» یعنی یواځې په بڼه ښه ښکاري ،خو دننه بد دي.په دې پورته بیتونو کښې بابا د زړۀ خواله کړې د خپل وخت د ټولنیز، سیاسي او اخلاقي فساد یوه فلسفي انځورونه کوي.دے خلکو ته د عدالت، اصولو او ریښتینولۍ د عوت یا بلنه ورکوي او د قبیلوي،ذاتي او شخصي تعصوبونو خلاف دریځ لري.دا پیغام نن هم ډېر ارزښت لري.هېره دې نه وي چې د خوشحال خان خټک په شعرونو کښې په پراخه کچه ټولنیز موضوعات په شعري ژبه روښانه شوي،دا چې دا لیکنه د نورو ډېرو بېلګو د راوړلو او شرحې ګنجایش نه لري، نو په همدې پورتنیو یاد شوےو مثالونو بسنه کوو او د بحث لمن راټولوو.

پایله:

د خوشحال خان بابا ټولنیز شعرونه د پښتني ټولنې د ارزښتونو،ستونزو او اصلاح غوښتنو یو ژور انعکاس وړاندې کوي. هغه د خپل مهال یا عصر د ټولنې حالت ته په نیوکه او

تحلیل سره داسې شعرونه وړاندې کړي چې نه یواځې د خپل وخت خلکو ته یې لارښوونه کړې، بلکې نن هم ارزښت لري،خوشحال بابا د ظلم،بې عدالتیو،قبایلي شخړو،جهل پر وړاندې غږ پورته کړے دے.هغه د خپل قلم له لارې خلک یووالي،وطن پالنې،غیرت او علم ته هڅولي دي او هڅه یې کړې چې د ټولنې بدلون او اصلاح لپاره فکري بنسټونه کېږدي.د هغه شاعري نه یواځې هنري ښکلا لري، بلکې ټولنیز شعور او د مسؤولیت احساس هم په کښې ژور موجود او محسوس دے؛نو وئیلے شو چې خوشحال خان خټک یواځې یو شاعر نه و،بلکې یو ټولنیز مفکر او مصلح هم،چې د خپل شعر له لارې یې د پښتني ټولنې د شعور دبیدارۍ لپاره خدمت کړے دے.همدارنګه د بابا شعرونه د ټولنیز عدالت،انساني کرامت،عقلانیت او رڼا پر لور د ملت د رهبرۍ کولو هڅه کوي.هغه خپل ولس ته د غلامۍ پرضد مبارزه ورښيي،خلک له بې اتفاقۍ څخه یوالي ته رابولي او په علمي،اخلاقي او ټولنیزو ارزښتونو یې ټینګار کوي.دا ټول پیغامونه د شعر په ژبه داسې وړاندې شوي چې د لوستونکو زړونو ته ننوځي او د عملي بدلون الهام ورکوي.په پای کښې د دې خبرې یادونه ضروري ګڼم چې خوشحال بابا یواځې یو شاعر نه و،بلکې یو ژور اندیشه ټولنپوه،مفکر،فیلسوف او د پښتني تولنې د اصلاح غوښتونکي و، د هغه ټولنیز شعرونه د اوسني نسل لپاره هم د فکر،عمل او بدلون یوه ارزښتناکه سرچینه ده او د پښتو ادبیاتو په ټولنیز بعد کښې یې تلپاتې اغېز پرې ایښی دے.

# حوالې


1. باجوړی،بریالے.شعر د خوشحال له نظره،کابل مجله، 11-12 ګڼه، 1392 ل کال. 158 مخ.
2. د خوشحال خان خټک کلیات، د عبدالقیوم زاهد مشواڼي په زیار، دانش خپرندویه ټولنه،دویم چاپ، ۱۳۹۱ ل کال. ۵۲۲ مخ.
3. آریانا دایره المعارف، دوےم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي،نبراسکا مطبعه، کابل، ۱۳۸۷ ل،کال.901مخ.
4. پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس،عبدالرحیم ځدارن،محمد نعیم سالارزی،علی محمد منګل،لومړی ټوک،لومړی چاپ، دافغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل،۱۳۸۵ ل،کال.۸۳۲ مخ.
5. فرهنګیالے خوشحال،د سیمنار د مقالو ټولګه، د زلمي هېوادمل په زیار، دافغانستان د کلتوري ودې ټولنه،جرمني،اسد دانش مطبعه، 1389 ل کال.22 مخ.
6. د خوشحال خان خټک کلیات،416 مخ.
7. د خوشحال خان خټک دیوان،سریزه،ترتیب اوسمون،حبیب الله رفع، سهر مطبعه، 1379ل کال.469 مخ.
8. د خوشحـــال خـــان خټک کلیات، ۸۲ مخ.
9. هم دغه اثر، 373 مخ.
10. هم دغه اثر،142 مخ.
11. هم دغه اثر،149 مخ.
12. هم دغه اثر،222مخ.
13. هم دغه اثر،956 مخ.
14. هم دغه اثر، 656 مخ.

15. هم دغه اثر، 1005 مخ.
16. هم دغه اثر، ۲ 62 مخ.
17. هم دغه اثر، 228 مخ.
18. هم دغه اثر، 537 مخ.